PRESS INFORMATION

THE EUROPEAN UNION DELEGATION TO AFGHANISTAN
THE EUROPEAN UNION SPECIAL REPRESENTATIVE IN AFGHANISTAN

اروپايي ټولنه د افغانستان دولت څخه غواړي چې د خبريالانو پر وړاندې د جرمونو معافيت پای ته ورسوي

*کابل- د **2016** کال د نوامبر **2***

د خبريالانو پر وړاندې د جرمونو د معافيت پاي ته رسولو د نړيوالې ورځې په مناسبت اروپايي ټولنه په افغانستان کې د خبريالانو پر وړاندې د تاوتريخوالي بې څارې زياتوالي په اړه خپل ژوره اندیښنه څرګندوي. د افغانستان د خبريالانو څخه د دفاع بنسټونو د راپورونو پر بنسټ 2016 کال په افغانستان کې د رسنيو او وينا آزادۍ لپاره تر ټولو کلونو نه ستونزمنه کال و. د افغانستان د خبريالانو د ساتنې کميټې د 2016 کال لومړۍ شپږ مياشتنی راپور بنايي چې په دغه موده کې د خبريالانو پر وړاندې تاوتريخوالي 38 سلنه زياتي شوي دي چې د وژنې، وهلې، بندي‌کېدل او ګواښ په شمار تاوتريخوالي په کې شاملې دي.

په افغانستان کې د اروپايي ټولنې ځانګړي استازي فرانز مايکل‌سلبن وايي: " دغه شمېرې ډېر د اندیښنې وړ دي او زه دغه ټول تاوتريخوالي په کلکه غندم. د وينا آزادۍ د ټولو افغانانو بنسټيز حق دي او ټولو خواوې بايد درناوۍ يې وکړي. زه د افغانستان دولت څخه غوښتنه کوم چې د خبريالانو پر وړاندې د تاوتريخوالي هره قضيه وشړي او عاملين يې تعقيب کړي. دولت بايد د رسنيو کارکونکو لپاره يوه مصوون کاری چاپېريال برابر کړي. "

د افغانستان خلک په‌ټرو لسو کلونو په لړ کې د وينا د آزادۍ د لوړې کچې څخه برخه مند شوي دي او دغه لاس ته راوړنې څخه بايد ساته او درناوۍ وشي. اروپا ټولنه د خبريالانو د امنيت د ښه والي په برخه کې خپل دوامدره ملاتړ باندې‌ټينګار کوي.

اروپايي ټولنه همدارنګه د افغانستان دولت څخه تمه لري چې د اروپايي ټولنې – افغانستان دويم د بشری حقونو ډيالوګ (1 جون 2016) د ژمنې پر بنسټ دسې‌ان د آزادۍ او د رسنيو د آزادۍ – د ټولنيز رسنيو په ګډون - دسې‌اوړي کولو په موخه سټنګ ګامونه پورته کړي.

لاډيرو معلوماتو لپاره:

د اروپايي ټولنې پلاوی
د رسنيو سلاکار
عبدالله يادګاري
ټليفوني شمېره: 548 173 700 (0) 93+
بريښنالیک: abdullah.yadgare@eeas.europa.eu

کيل اندرسن
د رسنيو او عامه اړيکې سلاکار
په افغانستان کې د اروپايي ټولنې ځانګړي استازي
شماره تماس: 449 794 701 (0) 93+
ايميل: Kjeld.ANDERSEN@ext.eeas.europa.eu